یونس نګاه
۱۴ مارچ ۲۰۲۳




**یونس نګاه**

# نامنور استبداد

ملا هبت الله له اشرف غني سره ځيني ورته والي لري. ښاغلی غني يو لوستی او تحصيل کړی سړی و. هغه د فکري فورمولونو په مرسته هڅه کوله چي افغانستان په چټکی سره د يوه «عادل نظام» خاوند کړي څو خپل «کاواکه حکومت» اصلاح کړي او په درېيو کچو «کورنی، سيمه ييزه او نړيواله «کچه خپلي ستونزوې حل کړي څو د هېواد اوبه د تېلو په بيه بازار ته وړاندې شي، برېښنا يې هند او پاکستان ته صادره شي، ترانزيټي لويې لارې ولري او هوايي دهلېز يې د ترانزيت محدوديتونه لېرې کړي. ملا هبت الله هم د هغه په څېر د فکري فورمولونو خاوند دی او د افغانستان لپاره په درېيو کچو يعني کورنی، سيمه ييزې او نړيوالي کچي پلانونه وړاندې کوي. نوموړي د عادل نظام په اړه هم خبرې کوي او د بشري سرچينو له رئيسانو سره يې په کتنه کي چي رپوټ او جزيات يې په ۸صبح کي خپاره شول، پر اشرف غني يې په «دروغو» د عمري عدالت د شعار ورکولو له امله نيوکه کړې ده. ملا هبت الله د عادل نظام د رامنځته کولو لپاره د قانون، اقتصادي پرمختګ، ښووني او روزني او د کارموندني په اړه خبرې نه کوي، بلکي د ټولو ستونزو حل د شريعت په پلېتابه کي ګڼي. نوموړي د روان کال د تلي په ۱۸مه د هېواد د ۳۴ ولايتونو د استخباراتو له رييسانو سره په کتنه کي ويلي دي، چي ټول چارواکي دې ورته حساب ورکړي چي د حکومتولی په يوه کال کي يې څومره شريعت پلی کړی دی. هغه د تر خپلي قوماندې لاندې رياستونو له مسوولينو دا نه دي غوښتي، چي د اقتصادي پرمختګ، د پوهني د ودې، د صنعتي توليداتو د زياتوالي، د وزګارتيا د کمښت او د قانون د تطبيق په اړه راپور ورکړي. د هغه حساب غوښتنه د شريعت په پلي کولو کي د (پرمختګ) لپاره ده، هغه شريعت چي په عمل کي په امر بالمعروف او نهي عن المنکر او جهاد پورې رامحدودېږي. نوموړي د وزارتونو د بشري سرچينو له رييسانو سره په کتنه کي دا هم ويلي، چي شريعت د ټولو ستونزو د هوارۍ کيلي ده او په هر کار کي بايد له علماو (ملايانو) سره مشوره وشي، ځکه چي شريعت بشپړ دی او د هر څه لپاره يې سمه لاره ټاکلي ده. په کورنی کچه، د هغه ايډيال يوه داسي ټولنه ده چي هر څوک له شريعت سره دومره اشنا وي چي «هېڅ مخالف پاتي نه

شي» هغه يو لاس افغانستان، چي له اطاعت کوونکو ډک او جهاد ته چمتو دی، پرمختللی ګڼي. په سيمه ييزه کچه هم ملا هبت الله لکه اشرف غني افغانستان يو فعال غړی غواړي، خو سيمي ته د اوبو او بريښنا په صادرولو او د ټرانزيټ پر څلور لارې د هېواد په بدلولو باور نه لري، بلکي تبليغ کوي چي هېواد به د جهاديزم د سوداګرۍ او ټرانزيټ پر څلور لارې بدل کړي څو له دې لارې ګاونډي هېوادونه او اسلامي نړۍ د امارت يا خلافت تر چتر لاندې راشي. هغه په نړۍواله کچه هم تخيلات لري او وايي چي د افغانستان د خلکو دنده په ټوله نړۍ کي د جهاد د بري لپاره چمتووالی او قرباني ورکول دي. هغه د افغانستان له خلکو تمه لري، چي زغرې واغوندي او هر ځای ته چي ده يې امر وکړ، ولاړ شي. (د بشري سرچينو له رييسانو سره د ملا هبت الله د غونډې د راپور ۱۴فقره،.(

د اسلامي جمهوريت د لومړۍ لسيزې له وروستيو، کله چي د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزې ټاکني له شرمه ډکو ترېنګلتاوو سره مخ شوې، د رايو غلا او درغلی خبره د بهرنيو منځګړيتوب او د جوړجاړي پر بنسټ د يوه مصلحتي غير منتخب حکومت جوړېدو ته ورسوله، د سياسي کړيو او لوستو کسانو تر منځ د داسي يوه منظم مرکزي نظام د جوړېدو د اړتيا خبره کېده،چي په مشرۍ کي يې د پوهني او پرمختګ يو ملاتړی تحصيل کړی کس وي. هغوی ويل، چي افغانستان د ترهګرۍ د ګواښ، سياسي وروسته پاتي والي، د ډيموکراسۍ په کلتور کي د ريښو نه لرلو او د پياوړو ګوندونو د نشتوالي له امله د يو ولسواک نظام منلو ته چمتو نه دی او غوره ده چي د مترقي افکارو خو ډېرو صلاحيتونو لرونکی کس د واک پر ګدۍ کېني څو ټيکاو او پرمختګ ته د رسېدو لپاره اړين نظم او ډسپيلين رامنځته کړي، له همدې امله کله کله د منور د استبداد خبره هم کېده.

تاريخ پوهانو او سياست پوهانو د اتلسمي پيړۍ د استبدادي حکومتونو ټولګي ته چي ويل کېدل سيکولرې، پرمختګپالي او منطقي ځانګړني يې لرلي او د لوېديځو هيوادونو لپاره يې له فيوډالي دورې د تېريدو لاره هواروله، د منور استبداد او يا روښانه ديکتاتورۍ نوم ورکړی دی. منورو مستبدانو د روښانتيا دورې د پرمختګونو په ترڅ کي خپل ځواک له اسمان او الهي ارادې سره نه تاړه، خو ادعا يې کوله چي دوی د خلکو د هوسايني او خوښۍ لپاره ځواک کاروي او اصلاحاتو او روښانتيا دا ته يې لېوالتيا لرله. تاريخ پوهان ناپليون تر ټولو مشهور روښانفکره ديکتاتور بولي. ماريا ترزا (۱۷۸۰-۱۷۴۰) په اتريش کي، د پروشيا دويم فريډريک (۱۷۸۶-۱۷۴۰) او د روسيي دويمه کاترين (-۱۷۶۲ ۱۷۹۶) هم د مستبدانو په ډله کي مشهور نومونه دي .دوی هر يو په خپل هېواد کي د فساد او انارشيزم پر وړاندې په اوسپنيز سوک سره درېدلي وو، خو په عين حال کي يې اقتصادي او ټولنيز اصلاحات او په ځينو موردونو کي د محکمو خپلواکي او د نظر ازادي هڅوله. دغو ديکتاتورانو ته د منور نوم د همدې اصلاحي تګلارې او پرمختګ ته د لېوالتيا له امله ورکړل شوی دی.

اوس هم په هغو ټولنو کي چي د ډيموکراسۍ لپاره هڅي د انارشيزم لامل کېږي، بلواګري د ډيموکراسۍ د ثبات او واکمنېدو پر وړاندې جدي خنډ ده او بې وزلي او وروسته پاتي والي خلکو ته د ماناداره مشارکت فرصت نه ورکوي، په دې هيله چي له يوې خوا به ټولنه له بې ثباتۍ او بلواګرۍ خلاصه شي او له بلي خوا به له بې وزلی او وروسته پاتې والي نه وژغوري شي، استبداد ته لېوالتيا بيا راژوندۍ کيږي. هغه تحصيل کړي کسان او سياستوال چي د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کي يې د اشرف غني ملاتړ وکړ او هغه کسان چي د هغه د حکومت په اوو کلنو کي يې ورته د نړۍ د دويم متفکر او بابا لقبونه ورکړل، له همدې ډلي کسانو دي. له ټاکنو وروسته کله چي اشرف غني هڅه وکړه خپل اوسپنيز څوک ښکاره کړي، يو شمېر کسان ترې ولاړل او يو شمېر يې تر پايه تر څنګ پاتي شول. زما ځينو ملګرو او خپلوانو هغه ته د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کي رايه ورکړه، ځکه هغوی فکر کاوه چي هغه يو «جدي» او«پوه» سړی دی. خو د وخت تېرېدو وښودله چي د افغانستان وضعيت تر دې ډلي ډېر پېچلی دی چي د يوه «جدي» او «پوه» کس

تر شا په درېدو سره سم شي. زموږ دوره له اتلسمي پېړۍ سره ډېر توپير لري او نن ان د امان الله خان په نسخې سره د ملي ستونزو درملنه نه شي کېدای. هر هغه نظام چې د خلکو لپاره غير فعال رول ټاکي او د هغه کس يا کسانو د ذهني نسخو د پلي کولو هڅه کوي چې څرک يې په کتابونو، ويناوو، دعاګانو او تاريخ کې وي او د ورځې پر پېښو او د خلکو پر هيلو سترګې پټوي، ان که د پرمختګ غوښتني له نيت سره هم وي ، د ناکامی لامل کيږي. طالبان هم د ډيموکراتيک نظام په تشه او د روښانفکره اوسپنيز سوک ته د خلکو په تمايلانو کې واک ته رسيدلي دي. د بهرني ملاتړ ترڅنګ، د ثبات او نظم لپاره د خلکو تمايل – ان د آزاديو د کمولو په بيه واک ته د دې ډلې په رسېدو کې رول لوبولی دی. طالبان خپل امارت د يوه منور استبداد په توګه تبليغوي، په دې توپير چې دوی د دې نړۍ د سوکالۍ او هوساينې لپاره روښانتيا او تنوير اړين نه ګڼي، بلکې له ديني عقايدو نه په ناوړه ګټه اخيستنې سره خلک د هغې نړۍ په عقايدو غولوي او له روښانتيا يې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کچې ته راټيټه کړې او خلک پر اطاعت او قربانۍ موظف ګڼي. ملا هبت الله د بشري سرچينو له رئيسانو سره په کتنه کې ويلي دي: «که په رښتيا د دين او شريعت حاکميت غواړئ، نو قربانۍ ته چمتو اوسئ، زغرې واغوندئ، » هغه د بشري سرچينو له مسوولينو نه چې په بشپړ ډول د مديريت تخصصي بستونه لري، غوښتي چې خپل اصلي ماموريت د شريعت پلي کول وګرځوي او د نړيوال جهاد په لاره کې قربانۍ ته چمتو شي. ملا هبت الله يوازينی کس نه دی چې دا ډول «تنويري» ماموريت تبليغوي، بلکې د ذبيح الله مجاهد په څېر کسان هم هڅه کوي چې سانسور، استبداد او اوسپنيز سوک د آخرت په خبرو سره توجيې کړي، په داسې حال کې چې دوی د دې نړۍ د پيسو په راټولولو، سوداګرۍ او د واک د وېش پر سر په جګړو بوخت دي. مجاهد په خپله وينا کې چې د روان کال د فبرورۍ پر ۱۲مه د طالبانو تر واک لاندې ملي ټلويزيون له لارې د سانسور د توجيه کولو او د بيان د ازادۍ د مخنيوي په موخه خپره شوه، وويل چې انسان د خدای بنده دی او مطلق آزادېدای نه شي. د هغه په وينا، «انسان مطلق د ژوند کولو لپاره نه دی پيدا شوی، ځکه چې نړۍ د اوسيدو ځای نه دی، ستونزې، مسايل او دغه راز ماشومتوب، ناتواني او بيا مرګ ټول په دې نړۍ کې پر يو کس راځي. دا د ژوند ځای نه دی، د ژوند ځای د مسلمانانو په باور، آخرت دی. د ژوند ځای جنت دی چې هېڅ پای نه لري، نعمتونه يې پای نه لري او د ژوند يې هم پای نه لري. نړۍ د آزموينې يو پړاو دی . خدای ژوند او مرګ د دې لپاره پيدا کړی، چې تاسو وازمويي، چې په تاسو کې کوم يو غوره او ښه عمل ترسره کوئ. نو دلته موږ د دين پر وړاندې او د خدای پر وړاندې مکلف يو. هر څوک چې په هر ځای کې دنده لري بايد دا مسؤليت احساس کړي. موږ په بشپړه توګه آزادېدای نه شو«.

ملا هبت الله په دې وهم کې دی او يا لږ تر لږه په خپلو ويناوو او دريځونو کې داسې ښکاره کوي چې ګوندې د طالبانو په منځ کې له فکري پلوه بشپړ دی، د نيکمرغۍ پر فورمول پوهېږي او د علمونو مور ورسره ده. نو هغه استبداد چې د افغانستان پر خلکو يې تحميلوي او غواړي د سيمې او نړۍ هېوادونو ته يې صادر کړي، منور او د خلکو په ګټه دی، له همدې امله يې ويلي دي، چې د ده په اداره کې د شريعت پر بنسټ، د جمهوريت ټول قوانين او مقررات له استثنا پرته لغوه دي او ان د هغو د لغوه کولو لپاره «فرمان ته اړتيا نه شته.» د هغه لپاره په جمهوري نظام کې د کلونو کلونو تجربې هېڅ ارزښت نه لري، هغه قوانين او مقررات چې په اوږدو لسيزو کې په ډېرو ازموينو او تېروتنو سره جوړ شوي، د بيا کتنې وړ هم نه دي او بايد د زړو کاغذونو په څېر له منځه يوړل شي. هغه ويلي: «شريعت څه ته محتاج نه دی«.

هبت الله اخندزاده او د هغه امارتيان اداري او سياسي چارې هم د شريعت په دغې بې احتياجۍ کې رانغاړي. د شريعت بې احتياجي، مشورې او په واک او نظام کې له خپلو کسانو پرته د نورو حضور ته د ملا هبت الله د بې احتياجۍ په

مانا دی. هغه د ملایانو امارت د متخصصینو او تخنیکي خلکو همکاری ته اړ نه ګڼي او نه هم خپل حکومت له خلکو سره خبرو، د رایو اخیستو، پارلمان او استازولی ته اړ ګڼي. هغه د نړی لومړی متفکر دی او امارت یې هېڅ فکري تعامل او د تجربو او تخصص تبادلې ته اړتیا نه لري.

ملا هبت الله د بشري سرچینو رییسانو ته د خپلو وړاندیزونو په دوام ویلي دي: دا چې موږ کامل دین لرو نو باید د اسلامي نظام لپاره داسې جامع او کامل قوانین جوړ کړو چې د نړی ټول نظامونه ورته اړتیا ولري.» هغه د داسې کاملو قوانینو جوړول د خلکو د اړتیاوو ارزول، د نورو ملتونو د تجربو مطالعه او د اداري او سیاسي ژوند په بېلابېلو برخو کې متخصصینو ته مراجعه نه ګڼي، بلکې د ټولو ستونزو د حل کلي یې په کندهار کې او د مولویانو له شورا سره ده. «په همدې خاطر وزیرانو ته وایم چې په هره معامله کې له علماوو سره مشوره وکړئ، ځکه شریعت کامل دی او د هر څه لپاره یې سمه لار ټاکلې ده«.

دغه نامنور استبداد د افغانستان پر خلکو ژوند داسې دوزخ ګرځولی دی چې نن یې شاهدان یو. هغه دوزخ چې د هدیرې نظم، چوپتیا او اطاعت یې ایډیال دی او هغه دنیوي کړاو چې له اطاعت سره مل وي او خلک د قربانۍ لپاره په زغره والو مجاهدینو بدل کړي د منلو وړ او ښه دی. ځکه د ذبیح الله مجاهد په وینا دا دنیا د اوسېدو ځای نه دی! د تورو ذهنونو او مرګ غوښتونکو مستبدانو لپاره، هغه زده کړه چې ښځې او نارینه د اطاعت او مرګ غوښتنې په زغرې سمبال نه کړي د ارزښت وړ نه ده. هغه مرښت او سکون چې سړی د ملا هبت الله او د هغه د ملګرو له منګولو را وباسي، شر دی او لوړه ترې غوره ده.

په تاریخي منور استبداد کې چې په پوهنتونونو او سیاسي حلقو کې پرې خبرې کېږي «څرګند» ټکی له عقب فکری او مرګ غوښتنې ډېره وه. هغه مستبدانو چې په ټولنه کې یې د روښانتیا د زماني اغېزې لیدلې وې او په دې پوهېدل چې خلک دیني شعارونه او اخروي عقاید نه پېري، اعلان یې وکړ چې د واک د چلولو لپاره له اسمان او دینه امر نه اخلي، بلکې د خلکو خیر او ټولنیز پرمختګ ته اړتیا د هغوی استبدادي واکمنې توجیه کوي. ځینې په دې باور دي چې په هغې دوره کې او د هغه وخت د لوېدیځو ټولنو لپاره، هغه منور استبداد ګټور پرېوت او نظم وده وکړه او په پایله کې یې د زادۍ پراختیا ته لاره هواره کړه. البته په بې ثباتۍ او انارشیزم اخته ټولنو کې منور اوسپنیز سوک ته تمایل یوازې په تېر او لویدیځ پورې محدود نه دی، بلکې لکه څنګه چې د دې متن په پیل کې وویل شول، نن هم هغه ناچاره خلک چې اداري او دموکراتیکې وسیلې نه لري، کله چې له ښکاره غلاوو، بې اصولو تړونونو، د خلکو د رایو او حقونو د معامله ګرو او ترهګرو او تښتونکو په لومه کې راګیر شي، نو له خپلو دیموکراتیکو ایډیالونو او بشري حقونو نه یو څو ګامه شاته کېږي او حاضرېږي چې اوسپنیز سوک په دې هیله وزغمي، چې منور نظم رامنځته شي او د ډوډۍ، اوبو، سولې او تعلیم او کار زمینه به برابره شي او په پایله کې ټولنه فرصت پیدا کړي چې د پیاوړو ټولنیزو بنسټونو خاونده شي او له استبداده تېرېدو ته چمتو شي. جهادي استبداد، چې ژوند د مجبوریت یو شر تبلیغوي او د خلکو مادي اړتیاوو ته ارزښت نه ورکوي، ښایي د یو څه مودې لپاره له انارشېزمه خلاصون ته د ټولنې له تمایله د امارت د جوړولو لپاره ګټه پورته کړي، خو ډېر پاینښت به ونه لري، ځکه چې انسانان نه شي کولای اوده موده له مرګه د وروسته نړی په هیله پر خپلې ډوډۍ، اوبو، تعیلم او ارامتیا سترګې پټې کړي. خلک پر دې باور نه شي کولای چې نړی د ژوند ځای نه دی او ټول باید کفن اغوستي د اخرت لپاره وجنګېږي.